مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۲۱

# ... ځکه چې زه، ځان ته وعده خلاف ښکارم

## (ادبي توټه)

هغه ورځ مې په یاده ده، چې د ښار په یوه لویه پلورنځي ـ چې تا په کې کار کولو ـ کې مو سره ولیدل،

یو تر بله ډیر خوشحاله شو او ښې شیبې مو سره مرکې وکړې،

یاد مې دي چې د خدای په امانی په وخت کې ما درسره ژمنه وکړه، چې ښه شوه زه به دلته بیا ځو ځو ځله راشم، ستا دیدن به وکړم،

خو بیا تقدیر داسې وکړل، چې آخوا هیڅ درپیښ نه شوم، خو په دې پوهیدم چې ستا به یاد وي او د انتظار سترګې به دې په لار وي،

ما هم ډیر کوښښ وکړ، چې د زمانی له جنجالونو نه ځان خلاص کړم او هاغه خوا در پیښه وکړم او بیا په هغه لاره تیر شم، داوه وم چې ته هلته يې،

خو څه وکړم چې د روزګار او زماني لیندی زه بل خوا ګذار کړم، ځکه ما له دې ښاره څخه کډه وکړه، خو د کډه کولو سره مې دې ته پام راوګرځید، چې ته به راته انتظاره يې،

نو زما پر زړه دا شیبې درنی تیریږي،

**ځکه چې زه ځان ته وعده خلاف ښکارم!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ